# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | ۴۳ـ ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | د رأیي ورکوني د ۲۰۰۰ محلونو د رأیو د تفتیش پایلې؛ |
| **ځانګه:** | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د وږي۱۱مه، (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۲ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالۍ اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مې مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پرېکړه لیکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأیي ورکوني د ۲۰۰۰ محلونو رأیو د تفتیش د پایلو په اړه ، په درېیو کټګوریو کې چې لړلیک ( فهرست) او ځانګړنې یې له دغه پرېکړه لیک سره ضمیمه دي، په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

۱ . د رأیي ورکوني ۲۰۰۰ محلونو له ډلې څخه ۳۶۰ هغه یې په چیک لیستونو کې د نه وضاحت له امله بیاځېړنې ته وړاندې شول.
۲ . د رأیي ورکوني ۵۲۰ محلونه چې د تفتیش په پایله کې هیڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه لیدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دې شي؛
۳. د رأیي ورکوني ۱۰۷۰ محلونو بیاشمېرنه چې ۷۸۳ هغه یې په ځانګړي تفتیش او ۲۸۷ یې په عادي تفتیش پورې اړ لري، تأیید ده، د بیا شمېرنې په بهیر کې دې شامل شي:

**د رأیي ورکوني د ۲۸۷ عادي صندوقونو د بیاشمېرنې دلایل:**

1. . د رأیي ورکوني ۱۵ محلونه په صندوقونو کې د پایلو فورمو د کاپي نشتوالي او یا هم د لاسوهنې د شواهدو د شتون له امله.
2. د رأیي ورکوني ۷۸ محلونه په پایلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زیاتو رأیو د ثبت له امله.
3. د رأیي ورکوني ۶۰ محلونه په پایلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زیاتو رأیو د ثبت، د پایلو فورمو او رأیه ورکوونکیو د لیسټ ترمنځ د توپیر او د صندوقو د شاوخوا د دوو یا له دوو څخه د زیاتو مهر او لاکونو د تخریب او ماتیدو له امله؛ یا د دې له پاره چې د صندوق د شاوخوا د دوو یا له دوو څخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو فورمو له شمېرو سره سمون او مطابقت نه لري .
4. د رأیي ورکوني ۷ محلونه د پایلو د اصلي فورمو او په صندوق کې دننه د پایلو فورمو د کاپي ترمنځ د توپیر له امله.
5. د رأیي ورکوني ۳۰ محلونه د رأیي ورکوونکیو لیست د سپین والي او یا په لیست کې له ۱۰ څخه د زیاتو پرله پسې شمېرو د ثبت له امله.
6. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې صندوق یې دومره مات او تخریب شوي او یا یې مهر او لاکونه دومره سست دي چې لاس په کې دننه کیدی شي.
7. د رأیي ورکوني یو محل د پایلو فورمې او د رأیي ورکوونکیو د لیست تر منځ د ٪۵۰ توپیر له امله.

۸. د رأيي ورکوني ۹۵ محلونه له دې امله چې کم له کمه ۲۰ رأيپاڼي يې ورته نښه شوې او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، همدارنګه د پايلو فورمو د کاپي د نشتوالي، په پايلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت، د صندوقونو د شاوخوا د ماتيدو او تخريب او د رأيي ورکوونکيو ليسټ د نشتوالي يا پرله پسې شميرو د ثبت له امله.

۴ . د رأيي ورکوني د ۵۰ محلونو د ټولو رأيو د ابطال تأييد چې ۱۳ يې په ځانګړي او ۳۷ په عادي تفتيش پورې اړه لري:

**الف. د عادي تفتيش د ۳۷ صندوقونو د ابطال دلايل:**

۱. د رأيي ورکوني ۲۷ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هيڅ رأيي پاڼې نه دي موجودې، يا يې رأيي پاڼې مهر شوې نه دي، يا ټولې رأيي پاڼې يې د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، يا ټولې هغه په ورته بڼه نښه شوې او يا هم له کندې څخه نه دي بيلې شوې.

۲. د رأيي ورکوني ۵ محلونه له دې چې د رأيي ورکوني محلونو په ژورنال کې د زور زياتي، جګړې او د کميسيون د کارکوونکيو له کنټرول څخه د ټاکنيزو توکيو له لاسه وتلو په اړه رپيورټ ورکړل شوی وو.

۳. د رأيي ورکوني دوه محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوني ليست يې ورک يا سپين دی او يا هم ۳۳ سلنه رأيي پاڼې يې مهر شوې نه دي، يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، يا په څرګنده توګه ورته نښه شوې او يا هم له کندې څخه نه دي بيلې شوې.

٤. د رأيي ورکوني دوه محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شميرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شميرو سره سمون نه لري او د پايلو په فورمو او د رأيي پاڼو په بنډولو کې يې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

۵. د رأيي ورکوني يو محل له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو په ليسټ کې يې لس يا لسو څخه زياتې پرله پسې شميرې ثبت شوې ، يا يې ۳۳ سلنه رأيي پاڼې ورته نښه شوې او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

**ب. د ځانګړي تفتيش د ۱۳ صندوقونو د ابطال دلايل:**

۱. د رأيي ورکوني ۷ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هيڅ رأيي پاڼې نه دي موجودې، يا يې رأيي پاڼې مهر شوې نه دي، يا ټولې رأيي پاڼې د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، يا ټولې هغه په ورته بڼه نښه شوې او يا هم له کندې څخه نه دي بيلې شوې.

۲. د رأيي ورکوني يو محل له دې چې د رأيي ورکوني محل په ژورنال کې د زور زياتي، جګړې او د کميسيون د کارکوونکيو له کنټرول څخه د ټاکنيزو توکيو له لاسه وتلو په اړه رپيورټ ورکړل شوی وو.

**۳.** د رأيي ورکوني ۴ محلونه له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو په ليستونو کې لس يا لسو څخه زياتې پرله پسې شميرې ثبت شوې، يا يې ۳۳ سلنه رأيي پاڼې ورته نښه شوې او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

٤. د رأيي ورکوني يو محل له دې امله چې د رأيي ورکوونکيو ليست يې سپين يا ورک شوی او کم له کمه ۳۳ سلنه رأيو يې ستونزه درلودې.

| د پريکړې مخالف | د غړيو نومونه | د پريکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلي ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلي ليلا احراري | |
| | آغلي شريفه زرمتۍ وردک | |

Decision No:٤٣ -١٣٩٣